# زېری

علمي- څېړنيزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جريده          د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

يکشنبه، (۱۹- ۲۴مه) ګڼه، (جدي- حوت)، درېيمه دوره، پرله‌پسې (۳۸۷- ۳۹۲مه) ګڼه، د ۱۴۰۰ل.کال د حوت(کب) د مياشتې ۲۹مه، د ۱۴۴۳هـ.ق. کال، د شعبان د مياشتې ۱٦مه او د ۲۰۲۲ز.کال، د مارچ ۲۰مه.


چې علاج کولی نه شي د قسمت څوک
تروبه څه وايي و چاته نصيحت څوک
هغه چارې چې موقوفې په تقدير دي
کړی يې نه شي په محنت، په مشقت څوک
رحمان بابا


مولانا شمس‌الحق افغاني
ژباړن: م. عمر جلال


# د قرآن‌کريم اعجاز

**د قرآن کريم بلاغي اعجاز**

د مسلمانانو دا دعوه د عقل له مخې بالکل څرګنده او پرځای ده، چې قرآن کريم د الله تعالی کلام دی، د انسان خبرې ندي او همدا شان د قرآن کريم د الفاظو، تعبيراتو او تعليماتو له مخې هم روښانه او ښکاره ده.

آيا دا د الله تعالی کلام دی، که د انسان؟

د يو کلام په باب دا فيصله کول، د مصنوعاتو پر معيار کېږي. په دنيا کې دوه ډوله مصنوعات دي:

۱. الهي مصنوعات؛ لکه لمر،سپوږمۍ او داسې نور
۲. انساني مصنوعات؛ لکه موټر سايکل، موټر او نور

دواړه مصنوعات چې د امتياز کوم معيار لري، هغه د الهي او انساني کلام ترمنځ هم د توپير معيار دی.

خدايي مصنوعات: هغه مصنوعات دي، چې د انسان له قدرت او لاسرسي څخه لوړ وي.

او انساني مصنوعات: هغه مصنوعات دي، چې د انسان په قدرت، واک او اختيار کې وي.

موږ لمر او سپوږمۍ د کائيناتو خالق ته منسوبوو، کله هم نه وايو، چې دا د انسان خلق دی، ځکه انسان په کومه کارخانه کې لمر او سپوږمۍ ندي جوړ کړي او نه به يې جوړ کړای شي، خو موټر او داسې نور شيان بيا په انساني کارخانه کې توليد او بازار ته وړاندې کېږي. کټ مټ همدا شان الهي کلام او انساني کلام (تصنيفات) هم دي؛ تصنيف د انسان د وس کار دی، لګيا دی کتابونه ليکي، مګر د څوارلس سوه کلن چېلنج با وجود يو داسې څوک پيدا نه شو او نه به کله هم پيدا شي، چې د الهي کلام په څېر يو څو اياتونه جوړ کړي، په داسې حال کې ټول هغه اسباب له انسان سره شته، چې د کلام په جوړولو کې په کار راځي او هغه دا چې:

۱. ترکيبي ماده: هغه څه چې د قرآن کريم آياتونه ترې مرکب دي، يعنې د عربي ژبې ۲۸ توري، چې له هغو څخه د قرآن کريم آياتونه جوړ شوي دي؛ لکه الف، با ، تا...

د دې مادې مثال داسې دی؛ لکه د مېز جوړونکي لپاره چې د لرګيو وجود ضروري دی، يعنې قرآن کريم له عربي حروفو څخه پرته نشوای جوړېدای. او همدا ماده او توري له ټولو عربو سره موجود وو او خپل کلام يې ترې جوړولو.

۲. نمونه: رخت د اچکن او شيرواني[1] جامو ماده ده، خو خياط يې تر هغې پورې نه شي جوړولای، تر څو يې چې نمونه ونلري. د الهي کلام نمونه هم له عربو سره وه؛ نبي کريم صلی الله عليه وسلم عربو ته قرآن تلاوت کړ او چېلنج يې کړل، چې ورته کلام جوړ کړئ!

۳. مهارت: که له خياط سره رخت او د اچکن جامې نمونه دواړه موجود وي، خو د خياطۍ له فن سره نا بلده وي، نو بيا هم اچکن نه شي جوړولی. مګر عربي فصيحانو د بلاغت د فن مهارت هم درلود، بلکې په فصاحت او ۳مخ




۲مخ

خېړنپوه دوکتور سيد محي الدين هاشمي

## د حق لارې بلونکی د سر منزل په لور!

۲مخ


خېړنپوه مولاجان تڼيوال


# ژبه او سياسي برلاسی

دا ټولو خلکو ته جوته ده چې په دې نړۍ کې ډېر هېوادونه پراته دي. هر هېواد بېل او ځانته ټولنيز جوړښت لري، چې د بېلابېلو اړخونو له پلوه د نورو هېوادونو سره توپير لري. ډېرې هېوادونه داسې دي چې بېلابېلې ژبې په کې ويل کېږي. دا هره يوه ژبه که د خلکو او ولسونو په منځ کې د پوهاوي او راپوهاوي دنده مخته بيايي په څنګ کې يې د هماغه ولس او ټولنې د عقايدو، افکارو، خيالاتو، کلتور او تاريخ څرګندونکې او لېږونکې هم ده، که چېرې ژبه نه وای، نو ولسونو او ټولنو به د دې توان نه وای درلودلای، چې خپلې اړتياوې په ګوته کړي، لارې ګودرې ورته پيدا کړي او د يوه او بل د تجربو او لاسته راوړنو څخه د ستونزو په له منځه وړلو کې ګټه واخلي. همدا علت دی چې ژبپوهنه، تاريخ او نور علوم د ژبو په روزلو، ژوندۍ ساتلو او پاللو باندې ټينګار کوي. دا ولې او د څه لپاره؟

ژبپوهنه د ژبو د روزنې، پالنې او ساتنې علم دی او د ژبو د ژوند، دوام، پايښت او بالاخره د متروکېدو تر لرې پورې اوږده تنسته مطالعه کوي او څېړي يې. تاريخ د خپلو اوږدو او پرله‌پسې څېړنو په بهير کې ژبنې توکي، اسناد او عناصر د لومړي لاس موادو او سرچينو په توګه کاروي او خپلې لاسته راوړنې ورباندې بنا او دروي. ښوونيز سيستم دا وايي، چې ډېر ښه پوهاوی په مورنۍ ژبه ترسره کېږي. په همدې دليل تل د يوې پردۍ ژبې پرځای په خپله ژبه باندې په زده‌کړه او تدريس باندې ټينګار کوي او په ټينګه سره د دې اصل پلوي کوي، چې زده‌کړه بايد چې په مورنۍ (خپله) ژبه وي. نړيوالې ټولنې او سازمانونه هم د دې اصل د لمنو مراندې ټينګوي او په مورنۍ يا خپله ژبه زده‌کړې مقدمې او ګټورې بولي او په همدې سبب يې په خپل کليز[1] کې يوه ورځ په مورنۍ ژبه د زده‌کړې په نوم مسمی او نومولې ده، خو د دې په خوا کې ځينې نور لاملونه هم شته چې ياد شوي ارونه تر پښو لاندې کوي او په ډېرې سپين سترګۍ سره يې په ضد عمل کوي. په لاندې کرښو او ليکو کې به وګورو چې د دې لاملونو سپين سترګي او تفوق غوښتنه ولسونو او ټولنو ته څه ډول او کوم سوغاتونه ور ډالۍ کوي:

په نړۍ کې لا ډېر پخوا يو شمېر هېوادونو د خپلو شومو موخو د ترلاسه کولو په غرض ډېرې داسې ناروا کړنې ترسره کړې دي، چې له مخې يې د نورو ناخوالو ترڅنګ د کلونياليزم[2] نومونې د بشريت په تاريخ کې ځای نيولی دی. د کلونياليزم د برې او واک په خاطر ډېرې بشري ټولنې د ډېرو ډول ډول کړاوونو، عذابونو او زيانونو سره مخامخ شوې، ډېر مادي، معنوي او کلتوري تاوانونه ور اوښتي او د اوږده وخت لپاره د مستعمرو په بڼه تر پرديو لاسونو لاندې پاتې شوي او ډېر څه يې له لاسه ورکړي دي. موږ په تاريخ کې د داسې بوښکلو يا بوخلو ډېرې بېلګې پيدا کولای شو، چې تر هرڅه دمخه يې د ډول ډول پلمو په وسيله مظلومو ټولنو ته ډېر لوی تاوانونه ور اړولي دي او جبرانول يې څه اسان کار نه دی. ښکېلاکګرو هېوادونو ډېر ستر کلتوري ارزښتونه تر پښو لاندې کړي دي، چې په ځينو هېوادونو کې يې ژبني اړخ د نمونې په ډول يادولای شو. ښکېلاکګرو قوتونو په ډېرو هېوادونو کې داسې کاني کړې دي چې د دوی د ملاوو تيرونه يې ورمات کړي دي. د ترلاس لاندې هېوادونو بومي ژبې يې له کارونې څخه محرومې کړې دي او خپلې ژبې يې د جبر له لارې وربانديې منلې او تپلې دي. دا ډول کړنې تر ټولو وړاندې انګرېزانو، فرانسويانو، پرتګاليانو او يو شمېر نورو ښکېلاکګرو هېوادونو سرته رسولې دي. ۲مخ

# په کيسه‌ييز ادب کې ډيالوګونه


خېړنوال سيد نظيم سيدي


د ادبياتو په څو صنفونو، خو په ځانګړې توګه داستاني څېلونو کې مناظره يا خبرې اترې ډېر مهم عنصر دی چې د معاني جوړونې اساس او بنسټ جوړوي. د ځينو څېړونکو په وينا خبرې اترې هغه ويناوې يا کلام دی، چې د دوو او يا تر دوو زياتو کسانو ترمنځ د پوهاوي په موخه ترسره کېږي او ډېر ځله په ليك کې د ټولنيزو مسايلو ترڅنګ د روانپوهنې او ټولنپوهنې رنګ هم خپلوي؛ خو آره موخه يې پوهاوی دی. البته ادب څېړونکي دا خبره هم کوي چې د خبرو اترو په وسيله ډېر ځله د اشخاصو او يا اتل او اتلې شخصيت هم څرګنديدای شي؛ لکه که د کور له غړو يې را پيل کړو، نو که تاسې د خپل کور غړو ته ځيرنه وکړئ، هرو مرو به دې خبرې ته ځير شئ چې ستاسې په کور کې هيڅ يو غړی د بل غړي په څېر خبرې نه کوي، آن د کوچنيو ماشومانو وينا هم له يو بل سره يو شانتې نه ده، د لويانو خو لا پرځای پرېږده او دا چې د لوستي او نالوستي، رسمي او نا رسمي، کليوال او ښاري وګړو ترمنځ څومره توپير دی، د هغوی خو لا پوښتنه مه کوه.

اوس که د خبرو اترو مسألې ته د ټولنپوهنې له نظره ځير شو بيا مو هم ځينو باريکيو ته پام را اوړي. په دې معنا ښايي په ځينو کورنيو کې يو شمېر وګړي داسې وي چې په عادي خبره په غوسه کېږي او که لره يې ورسره اوږده کړئ؛ نو شونې ده چې‌خبره لانجې او نښتې ته ورسېږي؛ خو ځينې بيا د دې خبرې پر عکس دي. په دې معنا که هغوی ته څوك څو بدې او ناکارې خبرې هم وکړي، هغوی يې عادي ګڼي او يا يې زغمي چې دغه چار يې هم يا د ځينو اړتياوو له مخې وي او يا هم د ځينو حساسيتونو د نه پارېدنې له امله، خو ټولنپوهان يې اصلي لامل د انسان ځينې انساني، ذهني او فزيکي نښې بولي چې له امله يې انسان دغه ډول ځانګړنې خپلوي، خو ادبپوهان بيا دغه ډول خبرو ته خبرې اترې يا ادبي مناظرې وايي. البته د يوې خبرې وضاحت په کار دی او هغه دا چې هر ډول پارونکې خبرې اترې ادبي مناظره نه ده، بلکې ادبي مناظره هغه ده چې نور ادبي مسايل او بحثونه را پرانيزي، نه هغه چې د انسان سپکاوی په کې شوی وي، خو دا چې انساني سپکاوی څه ډول وي او کومې خبرې اترې دي هغه ډېر پراخ بحث دی او زموږ دا مقاله د هغې حوصله نه لري، نو ځکه بايد واضح کړو چې په دغه بحث کې زموږ موخه يوازې معنا لرونکې او په موضوع پورې تړلې خبرې اترې دي. که دغه خبرې اترې د ناول په ژانر کې وي؛ نو هلته ډېر ځله د نورو منځپانګو ترڅنګ عشقي بڼه اخلي او هنري پانګه يې درنه وي، که په فلسفه کې وي نو بيا يې ساده بڼه سپکه او پېچلې بڼه درنه وي او که په ټولنپوهنه کې وي؛ نو بيا يې ټولنيزه او سمبوليکه بڼه درنه وي، خو له څېړنې پرته د ادب په هر چوکاټ کې به يې هرو مرو هنري او تخيلي بڼه درنه وي.

که د کيسو چوکاټ ته راشو، نو د کيسې په ژانر کې د خبرو اترو په اړه ډاکټر حسن احمدي ګيوي وايي: "خبرې اترې د يوې کيسې ډېر مهم او اساسي توکی دی او بايد دغه خبرې اترې دومره نوې، په زړه پورې او روح لرونکې وي چې لوستونکي ترې ډېر نوي څه زده کړای شي."[1]

ادب څېړونکي وايي ډېر ځله خبرې اترې د ادبي مسايلو د رښتينولۍ او نارښتينولۍ مسايل هم څرګندوي او لوستونکې کولای شي، چې د ليکوال له ډيالوګ څخه د هغه موخه او رښتينولي زباد کاندي چې څومره په سمه لار روان دی او څومره په ناسمه؛ ځکه ډېر ځله ځينې مسايل د خبرو اترو له لارې هواريږي او يا يوه موضوع د خبرو اترو له لارې تشريح کېږي؛ نو که چېرې ليکوال دغه خبرې اترې په سمه توګه منظمې نه کړای شي، بې ځايه لغت پرانۍ او خبرې په کې ځای کړي نه يوازې به يې خپل لوستونکي له لاسه ورکړي وي؛ بلکې دغې مهمې ادبي برخې ته به يې هم زيان رسولای وي او د لوستونکي له نظره به يې د يوې بې معنا ښکارندې په توګه معرفي کړې وي.

په هنري او کيسه‌ييز ژانر کې خبرې اترې بايد ځينې حقايق هم را بربنډ کړای شي، په دې معنا "...نيمګړتياوې او د فساد جرړې را بربنډې کړي او سپين له تورو جلا کړي، ځکه په جنايي او تحقيقي چارو کې ډېر شيان په وهلو ټکولو نه؛ بلکې په خبرو اترو کې څرګندېږي".[2]

په سقراطي روش کې بيا خبرې اترې بل ډول حکم لري؛ په دې معنا په نوموړي روش کې خبرې اترې د فکر زېږنده او د حقايقو تل ته د حريف د نږدېکوالي معنا ښندي؛ يعنې که چېرې موږ د افلاطون د جمهوريت اثر په دقت سره وګورو؛ نو دې پايلې ته رسېږو چې سقراط تل ډيالوګ يا خبرې اترې د يوې خبرې د زباد لپاره ويلې او تر هغې به يې يوه خبره شاربله؛ ترڅو چې به يې مقابل لوری يا قانع او يا بې ځوابه کړ؛ ځکه نوموړی پوهېده چې د ده د پېر ډېر په نامه ليکوال او فلاسفه په ګډوډو سر وو او د دې لپاره چې دی يې غږولی وي، يا يې ورته ستونزه پيدا کړې وي، يا يې په خپلو خبرو کې داسې خبرې ترې ايستلې وي چې سبا د ده پر ضد ثبوت شي او يا هم د ځينو نورو ملاحظو له امله يې نوموړی کړاوه، چې زباتونه يې د جمهوريت اثر د څو خبرو اترو يا ډيالوګونو ده چې دلته ورته په لنډه توګه نغوته کېږي:

"ورته مې وويل: موخه مې د تقليدي اشعارو ممنوعوالی دی، لکه څنګه چې موږ مخکې د انساني نفس بېلابېلې قوې سره توپير کړې؛ نو ګومان کوم چې مخکې له مخکې به مو دا معلومه کړې وي چې دغه ډول اشعار بايد په مطلق ډول بند او وغندل شي.

ويې ويل: په موخه دې اوس هم نه يم پوه؟

ورته مې وويل: دا خبره دې زموږ او ستاسې ترمنځ وي او ما د ټراژيديو مؤلفينو او نورو مقلدينو ته مه ور پېژنه. زما په اند دغه ډول اثار د لوستونکو ذهن فاسدوي؛ خو په هغه صورت کې ترې سمه معنا اخيستلای شي، چې له وړاندې د دغې پېښې په اړه معلومات ولري، چې په دې صورت کې د هغې له فساد څخه هم امان مومي. ۳مخ


سينا لطفي
ژباړن: فضل الرحمن عليزی


# کره‌کتنيزه مقاله

کله چې پر يوه کتاب باندې د کره‌کتنې او يا هم د يوې کره کتنيزې مقالې غوښتنه کېږي، نو تاسې لومړی بايد په کتاب کې د ليکوال وړاندې شوې اندونه او نظرونه وپېژنئ، لنډيز او ارزونه يې وکړئ، ځکه که تاسو غواړئ چې پر کتاب او يا هم پر مقاله باندې کره کتنه وکړئ او يا يې په اړه کره کتنيزه ليکنه وکړئ او يا هم د نورو فکرونه له خپل اند او له خپلې فکري زاويې څخه وڅېړئ، نو اړينه ده چې لومړی د ليکوال فکر او نظر ځانته معلوم کړئ.

تر کار لاندې کره‌کتنيزه موضوع بايد له غريزي حس څخه لوړه وي او له موضوع څخه ستاسو د معلوماتو پر بنسټ (درس، تجربه او معلومات) همدارنګه يو شمېر معلوم معيارونه ولري او د يو لړ هغو معيارونو پر اساس پرېکړه وشي، چې تاسو ته معلوم دي او يا مو هغه لوستې دي. موضوع په ځانګړو برخو کې تفسير او وارزوئ او د مقالې په پيل کې يې مشخصه کړئ. په ياد ولرئ چې ستاسې هدف له کتاب يا هم مقالې څخه د يو څو مهمو او کليدي ټکو وړاندې کول دي، نه داچې هر څه د کتاب ليکوال ليکلي دي او تاسې هغه بېرته کټ مټ را واخلي او دويم ځل يې بيا وړاندې کړئ.

**د سريزې ليکل**

خپله کره کتنه په يوه مناسبه سريزه پيل کړئ. له اړتيا سره سم بايد يوازې پر کتاب باندې کره کتنه وکړئ، بهرنيو سرچينو ته مخه مه کوئ، خو که چېرته کولای شئ چې له نورو سرچينو څخه ګټه واخلئ، نو هغه سرچينې هم بايد په سريزه کې ذکر او وښاياست او د هغو کتابونو او مقالو نومونه واخلئ چې د خپلې ليکنې د بشپړولو په وخت کې مو استفاده ورڅخه کړې ده. البته دغه يادونې بايد ډېرې لنډې وي، نه داچې د سرچينو د کره والي او ارزښت په اړه دومره خبرې وشي چې د لوستونکي پام د اصلي ليکنې پر ځای د هغه کتاب يا مقالې ارزښت او اهميت ته ۳مخ

لیکوال: پروفیسر انور جمال
ژباړه: نازو کمال




### ۵۱. خطابیه نظم (Ode)

خطابیه هغه نظم ته ویل کېږي چې شاعر کوم کس یا څیز مخاطب او نظم پیل کړي. یوازې د بهرني یا محسوس څیزونو مخاطبول د خطابیه هدف نه دی، بلکې هغه څیزونه چې نه محسوسېږي، یا دا چې هیجانات او احساسات هم مخاطبوي. خطابیه نظم په اصل کې یوناني ژانر دی، رومیان په عقلي او علمي لحاظ د دوی نقال وو، خطابیه له یونان څخه روم او له هغه ځایه یې بیا په نوره نړۍ کې هم رواج شوه.

### ۵۲. خود کلامي (له ځان سره خبرې) (Soliloquy)

خود کلامي یا له ځان سره خبرې د ډرامو اصطلاح ده، کله کله په ډرامو کې یو کرکټر په فکرونو کې ډوب راښیي چې کرکټر فکر کوي، خو هدف دا وي، چې د فکر کولو پر وخت یې کتونکو ته څه ډول ور وښیي؟ یا دا چې کتونکي یې له فکره څه ډول خبر شي؟ نو په دې حالت کې چې کرکټر یوازې وي، له خپل ځان سره غږېږي او دې ته د خود کلامي اصطلاح کارېږي.

### ۵۳. داخلیت (Internality)

دا د کره کتنې او ارواپوهنې اصطلاح ده. د اروپوهنې له نظره شخصیتونه په دوه ډوله دي:

۱ـ درون بین (Introvert)

۲ـ بیرون بین (Extrovert)

لومړی ډله خلک په خپل داخلي ذات کې ورک او خوشحاله وي، دی داخلي احساسات او جذبو ته ارزښت ورکوي، خو بیرون بین د دې پرخلاف دي. په ادب کې د داخلیت هدف دا دی، چې شاعر د خپل زړه په جذباتو او احساساتو کې خپل تخلیقي ژوند تېروي، که پر بیروني ژوند نظر تېر هم کړي، خو د خپل لید لوري له نظره یې گوري. داخلیت تر ډېره ارثي دی، خو د چاپیریال ناسموالی او د حالاتو گډوډي هم انسان د داخلیت ښکار کوي. په هر هنر کې چې جگرخوني او خپگان څرگند وي، هغه د داخلیت شاعري وي.

### ۵۴. داستان (Fiction)

نثري ژانر دی، افسانوي کیسه هم ورته وایي. داستان هغه اوږده کیسه ده، چې د ژوند له حقایقو لرې کیسو پورې اړه لري. داسې کیسې د خارق العاده پېښو لړۍ لري، په داستان کې پېښې له عقله لرې وي، نو ځکه تجسس پکې اړین توکی دی. د نړۍ د هر ادب په پیل کې داستان و، له دې څخه د انساني شعور حیرانوونکې کچه معلومېدای شي، د علم، پوهې او ساینس له پرمختگ سره ورو ورو ادب او داستان هم له دې فضا څخه راووت. په ادبیاتو کې داستان، ناول، ناولټ، کیسه، اوږدې او لنډې کیسې یې اوس پرمختللي بېلگې دي.

### ۵۵. دبستان (ښوونځی- School)

د انسانانو داسې ډله چې د یوې عقیدې، نظریې، خیال او مسلک پر اساس سره راټول شوي وي، دبستان ورته ویل کېږي. په انگلیسي کې د School of Thought اصطلاح د یوناني فلسفې او ژباړې له لارې راغلې ده او دلته Institution هم په همدې معنا کارېږي، هدف یې د زده کړو ځای، ښوونځی او داسې نور دي. په ادب کې دبستان د ځانگړي ادبي سبک شاعرانو او ډلو ته کارول کېږي.

### ۵٦. دولخت

دولخت شعري اصطلاح ده، د شعري اصطلاح په حیث له پیله په ادب کې موجوده وه. کله چې د کوم شاعر د شعر د دوو مسرو په وزن یا مفهوم کې بدلون راشي، نو ویل کېږي چې شعر دولخت شوی دی. په یوه حساب دا اصطلاح په کره کتنه کې هم شاملېږي.

### ۵۷. دیباچه (د پیل خبرې- Preface)

کره کتنیزه اصطلاح ده، د هر کتاب په پیل کې لیکوال، مؤلف، یا کوم بل ادیب یا کره کتونکی د لوستونکو د آسانۍ او پوهولو لپاره چې کومه لیکنه لیکي، دې ته دیباچه وایي. په ادبي نړۍ کې ځینې دیباچې یا مقدمې دومره اوږدې او مشهورې وي، چې خپل ځانگړی نوم لري.

### ۵۸. دیومالا

هغه کیسې چې خدایانو ته منسوبې وي، دیومالا یې بولي. د پخوانیو زمانو انسانانو چې په عقلي او علمي لحاظ یې په ابتدایي مرحلو کې ژوند کاوه، نو ځکه یې په نړۍ کې ټولو موجودو شیانو ته انساني ځانگړنې ورکولې او کیسې او داستانونه یې ورته جوړول. لکه ماشومان چې په ماشومتوب کې نانځکو ته ډوډۍ ورکوي، اوبه ورکوي او ویده کوي یې، هماغسې پخوانیو انسانانو هم میاشتې، لمر، غره، آسماني برېښنا، اوبو، هوا، سیلابونو، زلزلو او داسې نورو څیزونو سره د احساس پیدا کولو هڅه وکړه او ټولو څیزونو ته یې خدایان رامنځته کړل، ورپسې یې کیسې او داستانونه هم ورته جوړ کړل، چې همدا داستانونه دیومالا بلل کېږي. د مصر، یونان او هندوستان دیومالا کیسو پر ادبیاتو ژور اغېز کړی دی.

### ۵۹. رجائیت (Optimism)

د کره کتنې او ارواپوهنې اصطلاح ده، په عربي کې رجا هیلې ته وایي. په ادبي اصطلاح کې هیله من اوسېدل، له ژوند سره مینه، یا ځوک پر داسې ژبه وغږېږي، چې هیلې په نغښتې وي، رجائیت ورته ویل کېږي. په ځانگړې ډول په شاعرۍ کې د داسې موضوعاتو بیانولو ته وایي، چې عزم، حوصله او هیلې په کې بیان شوي وي. رجائیت د قنوطیت ضد دی، که قنوطیت د نړۍ له پېښو او اړیکو نهیلېدل دي، نو رجایي کس د هر څه او هرې پېښې په اړه هیله من وي، چې په ادبیاتو کې یې ډېرې بېلگې موندلی شو.

### ٦۰. رمز (Allusion)

د بیان اصطلاح ده، هدف یې اشاره او کنایه ده. د بیان په علم کې د کنایې پرمختللي شکل ته رمز ویل کېږي. چې د صفت او موصوف ترمنځ اړیکې کمې وي، یعنې په کلام کې یو څه ته لږه اشاره شوې وي چې ذهن اصلي مفهوم ته ورسېږي، خو د زیاتې پوهېدنې لپاره یې ډېرې لارې ونه مومي، رمز ورته وایي. رمز د هنر داسې یوه پټه برخه ده چې لوستونکي او اورېدونکي د پوهېدو لپاره باید څه نا څه ذهني هڅه وکړي او د دې لپاره چې انسان په هنر وپوهېږي، باید رمز پېژندونکی وي.

## ژبه او سیاسي...

هندوستان که چېرې سړی له حق څخه تېر نه شي د ژبو ټاپو یې بللی شي، خو تر ننه پورې د هغه هېواد ډېرې سترې (د اکثریت) ژبې د انگریزي ژبې په پرتله د کارونې پوره واک نه لري. پاکستان هم په بې عدالتۍ سره د طبعي ژبو پرځای اردو مصنوعي ژبه د رسمي او ملي ژبې په توگه کاروي حال دا چې دا ډول کړنې د ژبپوهنې د اصولو له مخې د دې ډول امتیاز حق نه لري.[۳]

فرانسویانو هم په خپل وارسره د افریقا په وچه او نورو برخو کې دا ډول ناروا کړنې ترسره کړې دي. د دې یادونې ډېره ښه نمونه الجزایر دی، چې د فرانسوي ښکېلاک په واسطه یې خپله بومي عربي ژبه له لاسه ورکړه او د فرانسوي ژبې کارونې ته یې مجبوراً مخه کړه، دا ځکه چې بشري ټولنې نشي کولای چې د ژبې څخه پرته ژوند وکړي. پوهان په دې اند دي چې یوه بشري ټولنه که هیڅ هم و نه لري یوه ژبه خو به ضرور لري. وروسته له هغې چې الجزایر خپلواکي واخیسته نو دې ته یې ملا وتړله چې خپله ژبه د ټولنیز پوهاوي راپوهاوي لپاره وکاروي.

د دې ستونزې د له منځه وړلو لپاره یې د نورو عربي هېوادونو په تېره له مصر څخه مجرب اشخاص راوستل او په ښوونیزو مرکزونو کې یې د عربي ژبې د تدریس او زده‌کړې په موخه وگومارل، خو ځوان نسل یې لا تر اوسه پورې د عربي ژبې په پرتله په فرانسوي ژبه باندې ښه پوهېږي. د دې وجه دا ده چې د ژبې زده‌کړه او په ټولنه کې د هغې عامېدل اوږده وخت ته اړتیا لري.

په همدې ډول پرتگالي ژبه د پرتگال هېواد څخه د باندې د برازیل په ځینو ځنډو او په افریقا کې د هغه هېواد، د وخت په مستعمرو کې ویل کېږي. له دې څخه ښکاري چې ښکېلاکگرو هېوادونو مظلومې ټولنې زبېښلې، د دوی ژبې یې په شعوري توگه گونگې ساتلې دي او په دې ډول یې د ډېرو هېوادونو تاریخ، کلتور، ژبې او نور ارزښتونه ژورو کندو ته ورغورځولي دي. په نړۍ کې نورې هم داسې نمونې ډېرې دي او ډېرې ژبې په دې ډول یا له منځه تللې یا ډېرې کمزورې شوې او د ژوند او کارونې ساحه پرې ډېره تنگه شوې ده. یو شمېر ژبې خو په دې لړ کې داسې گډې وډې شوې دي چې له ویونکو څخه یې سر او بر ورک شوی دی. دا کار د طبعي پېښو او افتونو په پایله کې نه دی شوی، بلکې په شعوري توگه او قصداً د ښکېلاکگرو نظامونو له لوریه شوی او یوه ژبه یې چې د میلیونونو وگړو له خوا پوهاوی راپوهاوی وربانديې کېږي په لوی لاس گډوله کړې ده. دا ډول نظامونه د یوې ژبې طبعي جوړښت، ویيپانگې او نورو برخو ته په عندي ډول زیان رسوي.

موږ دا منو او انکار هم ورڅخه نه کوو، چې یوه ژبه د بلې ژبې څخه د مختلفو وجوهاتو له مخې ځینې ویيونه اخلي او یو څه وربانديې بیانوي دا چار ځکه تر سترگو کېږي چې اخیستونکې ژبه یا په خپله سینه کې معادل ویيونه ورته نه لري او یا دا چې لا یې مناسب ویيونه ورته نه وي پیدا کړي، خو دا چې په یوه ژبه کې د یوه عیني واقعیت په توگه خپل ار او اصیل ویيونه موجود وي او مطلب هم تر منزل پورې رسولای شي د پردیو طبعي یا مصنوعي ژبو د اړوندو توکو او عناصرو کارونې او استعمال ته څه ضرورت دی؟ ایا په دې نړۍ کې داسې ولس یا ټولنه شته چې خپله ژبه، خپل تاریخي ویاړونه او کلتوري ارزښتونه چې ټولنیز هویت ټینگ ورسره تړلی دی په خپله خوښه او مرضي له لاسه ورکړي او خپله پښه په خپله په تبر ووهي. پښتانه یو متل لري او وایي چې ((په هر څه کې ټوکې، خو په جوارې کې نه)) علمي اصول په ارزښتونو باندې د لوبو د وهلو او خاورو اړولو اجازه هیڅاته نه ورکوي او په دې باندې ټینگار کوي چې ارزښتونه باید وساتل شي، ځکه هغه که د یوې خوا د بشریت د تجربو او لاسته راوړنو محصول دي نو د بلې خوا د پېژندنې او اساسي څېړنو ستنې هم پرې ولاړې دي.

اوس دا پوښته رامخې ته کېږي چې کلونیالیزم او استحصال[۴] د وخت او شرایطو سره سمه خپله بڼه بدله کړې ده ایا د خپلو غوښتنو څخه لاس په سر شوی دی؟ د خبرې د بدلون په اړه زه څه نه وایم، خو د خپلو غوښتنو څخه په هیڅ صورت نه دی تېر شوی، ځکه د ډېرو هېوادونو کړنې په داسې ستنو باندې ولاړې دي چې استحصال له ورایه په کې لیدل کېږي. اوس هم په نړۍ کې داسې لانجې او شخړې را پیدا شوې دي چې که د یوې خوایې نړیوالې ستونزې ډېرې کړې او رټې کړې دي له بلې خوا یې چې انکار ورڅخه نه شي کېدای، داسې شرایط رامنځته کړي دي چې دا وېره شته چې ډېرې ژبې به زیانمنې کړي. د بهرنیو ویيونو ورتگ ته به د اړتیا له مخې نه، بلکې د مجبوریت پر اساس زمینه برابره کړې او په راتلونکې کې به یو شمېر ټولنو او خلکو ته لوی سرخوږی جوړ کړي. په دې ډول کړنو سره کلتورونه مسخه کېږي او د رښتیاینو څېړنو لړۍ ته ښې ډېرې ربړې راولاړولای شي او هغه څه چې د پایلو په توگه لاسته راځي ډاډمن او ثقه به نه وي، په اوسني وخت کې فرهنگي یرغل یوه بله ربړه ده چې ژبه یا ژبې تر اغېزې لاندې راوړلي د ژبې د ویيپانگې غنا کمزورې کوي، د جوړښت په چوکاټ باندې تاثیر کوي او د پردیتوب چانس یې پیاوړی کوي. د فرهنگي یرغل پالونکي د خپل شوم هدف د ترلاسه کولو لپاره په یوه ټولنه او ولس کې د مختلفو لارو او امکاناتو څخه استفاده کوي او خپلو اهدافو ته د رسیدو په غرض د ضعیف البنیه اشخاصو، خپرونو، رسنیو او نورو وسیلو څخه گټه اخلي. دا په یوه ټولنه باندې د واک د چلونکو رژیمونو، مسئولو ادارو او پوهانو دنده او مسئولیت دی چې د پورته یادو شویو ناروا او دې ته ورته نورو کړنو پر ضد غوځ اقدام وکړي او د پراختیا مخه یې ډب کړي. دلته دا یادونه باید وکړم چې هر څه چې د لاسه ووځي یو نه یو وخت یې تشه تر یوې کچې او یا هم په بشپړه توگه ډکېدای شي، خو خدای مه کړه که چېرې ژبه د داسې برخلیک سره مخامخ شي د بیا راگرځېدو او راستنېدو امکان یې نشته.

---

۱. Kalender

۲. د نوي لاتین نومونه ده.

۳. په ځینو کتابونو کې اردو ژبه د طبعي ژبو په لیکه کې درول شوې ده، خو زه یې په اصولو کې نه منم. (لیکوال)

۴. Ausbeutung

## کره‌کتنیزه...

هم اداء شوی وي.

**د بحث را ټولونه او ارزونه**

څرنگه چې موږ تر دې ځایه د لیکوال په اصلي کار باندې بحث وکړ او د هغه د کار څرنگوالی او څنگه والی مو په گوته کړ، د ده د کړې کار په اړه مو خپل نظرونه او اندونه او همدارنگه خپله ارزونه وړاندې کړه، نو له دې ټول بحث څخه وروسته باید د لیکوال د کار یوه ټولیزه ارزونه وړاندې شي، چې آیا د لیکوال دا کار اغېزمن و؟ آیا هغه څه چې لیکوال غوښتل تر لاسه یې کړي یا یې بیان کړي؛ هغه موخه یې تر لاسه کړې ده؟ او یا دا چې د علم او پوهې په کوټه باندې یې زیاتونه کړې ده او که هسې یې د یوې موضوع په اړه زړې خبرې کړې دي او نوی څه یې نه دي پکې بیان کړي. د دې برخې په لیکلو کې د کره کتونکي دنده او مسئولیت دی چې بې پرې و اوسېږي، حقیقت ووایي او د لیکنې ښکنې او بد گنې یا د لیکنې ښکلي اړخونه او بدرنگې خواوې دواړه راڅرگندې کړي، بې پرې قضاوت وکړي او په حقیقت سترگې پټې نه کړي.

## د حق لارې بلونکی...

د خپلې سپېڅلې گروهې (عقیدې) او اسلامي پوهې په رڼا کې د یو ستر ایماني او وجداني مسئولیت او مکلفیت د سرته رسولو احساس راپاڅولی او یوې ډېرې سترې موخې او هدف ته د رسېدو په هیله یې پر یوې ستونزمنې لارې د تللو تکل او پخه اراده کړې وه....

الهي احکام او نبوي ارشادات یې د دغې لارې د تیاره گوټونو د روښانولو څراغونه، پیاوړی ایمان او پر لوی څښتن تعالی ټینگه عقیده یې ډاډمنه او کارنده وسله، اسلامي دیني او ایماني جذبه یې د حرکت او خوځښت اصلي او اساسي محرک و.

له پیله د خپلې پوهې او سپېڅلې گروهې د بصیرت له مخې سرمنزل ته د رسېدو لپاره د دې لارې ټول کړلېچونه، ځوړې، پېچومي او لوړې ژورې ور معلومې وې او په دې هم ښه پوهېده چې پر دغه لاره تلل یو عالم کړاوونه او ربړې په مخ کې لري....

پر الله جل جلاله باندې له ټینگې عقیدې وروسته له سر و مال تېرېدل پردې لارې د تللو لومړنی شرط و، ځکه خو هر چا ورسره په تللو کې ملتیا، د دې ستونزو منلو او زغملو ته په اسانۍ زړه نه شو ښه کولی.

که په پیل کې یې د حقې لارې ملگري د گوتو په شمېر وو، خو دوی د خپلې سپېڅلې داعیې او بلنې حقانیت په دې ډاډه کړي وو، چې مله به یې ورځ تر بلې زیات او ډېر نور به هم په دوی پسې پر دغه لاره راځي او هر ډول سربښندنې ته به چمتو کېږي.

په هماغه پیلامه کې د دوی هاند او هڅې ځینو ته ټوکې مسخرې او د وخت له حاکم نظام سره مقابله او مبارزه یې ورته په اصطلاح له غره سره ډغرې وهل ښکارېدل، چابه یې دا تکل، هوډ او اراده د ساده گۍ او ناپوهۍ نښې گڼلې او ځوک یې په کور و کلي، قبیلې، قوم او ټولنه کې په یوه او بله بڼه د سپکاوي، تجریدولو او تحقیرولو په هڅه او لټه کې وو او چا به....

خو دوی چې یو ځل د الله جل جلاله د رضا په پار له فساد، الحاد او زور زیاتي څخه د خپلو هېوادوالو د ژغورلو لپاره پر دغه لاره، سترې موخې او هدف ته د رسېدو پخه اراده او ژمنه کړې وه، د خلکو په پوچو او بې معنا خبرو پسې نه گرځېدل او سرمنزل ته د رسیدو لپاره مخ په وړاندې روان وو او هغه د شاعر په وینا چې:

**ننگیالی چې یو ځل مخ کا په کوم لوري**
**نور هیڅ نه گوري کوهی وي که گړنگ**

(رحمان بابا[رح])

د وخت په تېرېدو او د حالاتو په بدلېدو بیا په تدریج سره د ملت ډېر مؤمن وگړي پر دغه لاره له دوی سره تللو، د هر ډول ستونزو، کړاوونو زغملو او سربښندلو ته چمتو شول او بالاخره د الهی آزموینې په ډگر کې د باطل پر ضد د حق په سنگر کې د دوی ترڅنگ ودرېدل....

او بیا هغه ورځ هم راورسېده چې زیاته نړۍ د دغه سترې داعیې پر حقانیت او د دوی پر سپېڅلې کروړلې عقیده ،عزم ، شجاعت او مېړانه اعتراف وکړي، د نړۍ ښکېل شویو ولسونو او ملتونو ته د ظلم او استبداد له منگلو څخه د ژغورنې لاره خلاصه او هغوی هم، د الحاد، فساد او ښکېلاک پر وړاندې د مقابلې لپاره د دوی له جد و جهد نه الهام واخلي.

کاروان چې هر ځل خپل سرمنزل ته نږدې شوی، خپل منځي بې اتفاقیو، ځان غوښتنو او بهرنیو د غرض او مرض لاسونو د برې پر پوله د نسبي رکود، سکوت، ځنډ او خنډ سره مخامخ کړی، پر فضایې د څه ناڅه نهیلی او مایوسی لړۍ راخورې شوې، خو بیا د لوی خدای[ج] په مرسته او د دوی په تدبر او تفکر هغه د سکوت او رکود حالت ژر پای ته رسېدلی او د وړاندې تگ لارې چارې یې برابرې شوې دي.

اوس چې د حقې لارې د داعیانو او بلونکو دا کاروان په ډېرو سربښندنو له ډېرو ستونزمنو پړاوونو په کړاونو راتېر، له ډېرو لوړو ژورو بریمن راوتلی او د برې درشل ته رسېدلی ښکاري، خو لا نور له کړاوه ډک پړاوونه یې تر مخ دي ...، چې هغه یوازې د همدې مخکښو داعیانو په پوهې او بصیرت، تدبر او داهیانه لارښوونې سرمنزل ته د رسېدو لاره لنډولای او خپل وروستي هدف ته رسېدلی شي!

**( پېښور - کب ،۱۳٦۷ هـ ش کال )**

**یادښت:** دا لیکنه په ۱۳٦۷ل کال د کب د لومړۍ اوونۍ په هماغه شپه له الحاج مولانا جلال الدین حقاني[رح] سره د لیدنې په تأثر او اغېز لیکل شوې او تر دې مهاله چېرې نه وه خپره شوې.

# د قرآن کریم...

بلاغت کې پوره ماهر وو، ټول هېواد د دوی شعر و شاعرۍ نیولی و، شپه او ورځ یې همدا کار و، برعکس نبي کریم صلی الله علیه وسلم چې نه یې په کومه مشاعره کې گډون کاوه او نه یې هم دا بوختیا وه.

۴. محرّک: د هر شي د جوړولو لپاره د یو باعث او محرّک وجود ضروري دی، کنه نو بیا به ویل کېږي، چې فلاني کس دا شی جوړولی شوای، خو د جوړېدو لپاره یې کوم باعث و محرک نه و، ځکه یې جوړ نکړ. لکه موږ چې ډېر کارونه کولی شو، خو د یو ځانگړي محرّک د نه شتون له امله یې نه کوو.

د قرآن کریم د نزول پر مهال له عربو سره د قرآن سازۍ لوی محرّک او باعث و، ځکه د دوی ټوله هڅه دا وه، چې د قرآن کریم د اعجاز دعوه باطله کړي او په اسلام باندې خپل پلرنی دین لوړ ثابت کړي. د قرآن کریم د نزول پر مهال عرب د قرآن کریم ستر دښمنان شول، د قرآن ماتېدل او شکست یې له سترو مقاصدو څخه و، چې د (فَأۡتُواْ بِسُورَةٖ مِّن مِّثۡلِهِۦ) د آیت په وجه یې غوښتل، دوه یا درې آیاتونه جوړ او خپل هدف ته ځان ورسوي. مگر د قرآن کریم دښمنانو د کامیابۍ او فتحې اسانه، قلمي و ژبنۍ لاره پرېښوده، د تورې سخته او کړکېچنه لار یې غوره کړه، چې له مالي او ځاني زیان سره سره دا هم یقیني نه وه، چې جنگ گټي که ماتې خوري؟ د قرآن کریم د فیصلې مطابق د درېوو آیاتونو په جوړولو سره دوی کولای شوای، چې په اسانۍ سره فتحه ترلاسه کړي، خو داسې یې ونه کړل؛ نو له دې څخه دا معلومېږي، چې د دوی فطري بلاغت دا فیصله کړې وه، چې د قرآن کریم علمي مقابله ناممکنه ده او جنگي مقابله یې د برې امکان لري.

د قرآن کریم دغه اعجاز یوازې په یوې زمانې پورې ځانگړی نه دی، تر قیامته پورې به دوام کوي. اوس هم د مصر، شام، عراق او لبنان ډېری عیسویان، چې مورنۍ ژبه یې عربي ده، په ژبه و ادب کې یې زیات شمېر کتابونه لیکلي دي، د قرآن او اسلام په دښمنۍ کې میلیونونه روپۍ هم مصرفوي، مگر بیا هم د قرآني چېلنج له ځواب څخه عاجز او ناتوانه دي، که څه هم سپوږمۍ ته په ختو کې ځان عاجز نه گڼي، خو د څو آیتونو په جوړولو کې ځانونه پر بولي. دا د قرآن کریم هغه بلاغي او تعبیراتي اعجاز دی، چې ساری یې نشي موندل کېدلی.

**د قرآن کریم د مترجم ډاکټر سیل گواهي**

نوموړی د قرآن کریم د ژباړې په سریزه کې لیکي: د قرآن کریم غونډې معجز کتاب انساني قلم نشي لیکلی، دا یوه مستقله معجزه ده، چې د بعث بعد الموت له معجزې څخه هم ستره ده. (تاریخ اسلام، جلد اول، عبدالقیوم ندوي، ۳۲۷، ۳۳۲ص)

نو له دې څخه وروسته د قرآن کریم پر اعجاز باندې د مسیحي نړۍ ټول شکونه له منځه ځي. لکه د پادري فنډر او پادري اسکاټ دا خبره: ((عربو کولای شوای، چې د قرآني آیتونو په څېر آیتونه راوړي، خو ضرورت یې حس نکړ.)) د دې خبرې دا معنا ده، چې کوم باعث نه و، حال دا چې دومره قوي باعث او محرک موجود و، چې د قرآن کریم د ماتې په خاطر ځاني او مالي قرباني ته هم تیار شول، نو بیا یې ولې د قرآني آیتونو په څېر د آیتونو د جوړولو لاره پرېښوده؟! ځکه د قرآن کریم د درې آیتونو د جوړولو قدرت او توان یې نه درلود.

که په صحرا کې یو سړی له تندې مړ شي، نو دلیل به دا وي، چې اوبه نه وې، نه دا چې اوبه وې، خو د څښلو ضرورت یې حس نه کړ.

**د قرآن کریم قانوني اعجاز**

انساني قوانین (که جوړونکی یې فرد وي، یا ټولی) په ټولو قومونو، هېوادونو او مختلفو زمانو کې نه شي چلېدلی، د هېواد، قوم او زمانې په بدلون سره په دوی کې هم د ترمیم، تبدیل او تنسیخ اړتیا محسوسېږي، ځکه سرچینه یې انساني علم دی او د انسان علم محدود دی، پر ټولو اړخونو او ظروفو یې نظر چاپېر نه وي.

همدا وجه ده، چې په پارلمانونو کې د پخوانیو قوانینو د تغییر، تعدیل او ترمیم شاهدان یو، خو د قرآني قانون ښوونکی چې یو شخص (محمد صلی الله علیه وسلم) دی، جماعت ندی، هغه هم أمي دی، بلکې ټول ملک یې أمي و، په کومه مدرسه او پوهنتون کې یې زده‌کړې نه وې کړې، په ټول هېواد کې یې نه مدرسه وه او نه یې هم کوم کتابتون درلود، خو همدا قرآني قانون و، چې له اسلامي سوبو او فتوحاتو وروسته له مراکش څخه را نیولې، تر چین پورې خپور شو او د ژوندانه لپاره د عمل یوه لایحه او کړنلاره وگرځېد، څه باندې خوارلس سوه کاله وروسته پکې د هیڅ ډول ترمیم اړتیا ونه لیدل شوه، بلکې د نوې نړۍ پارلمانونو په ځینو مواردو او معاملاتو کې د خپل قانون پر خلاف، چې په خپلو هېوادونو کې نافذ کړی دی. مثلاً:

۱. په انگلستان کې تر ۱۹۲۲م کال پورې ښځو د ملکیت حق نه درلود، د قرآن کریم له تعلیم څخه په تأثر او اغېزو یې ښځو ته د ملکیت حق ورکړ.

۲. په ۱۹۳۷م کال کې امریکا له قرآن کریم څخه په تأثر د شرابو حرمت اعلان کړ او نقصانونه یې په بېلابېلو کتابونو کې نشر او خپاره کړل، خو څنگه چې عادت پرېښودل سخت کار دی، نو ځکه امریکا پکې بریالۍ نه شوه.

۳. په اروپا کې طلاق جرم بلل کېدو، خو فطري ضرورتونو اړ کړل، چې په قرآني قانون باندې عمل وکړي؛ نو دا په دې څرگند دلیل دی، چې قرآن کریم الهی کلام دی او د مخلوقاتو د خالق له لامحدود علم څخه سرچینه اخلي، د هر قوم، هر هېواد او هرې زمانې اړتیاوو ته په پوره معنا رسیدنه کولای شي.

گبن لیکلي: په قرآن کې د ژوندانه د ټولو اړخونو او ځانگو قوانین شته دي. سرډامنډ لیکي: د قرآن کریم قوانین له تاجدار او مالدار څخه را نیولې، تر ادنی وگړي پورې په ټولو یو شان حاوي او نافذ دي او دومره معقول دي، چې هیڅ ساری یې نه موندل کېږي.

**د قرآن کریم تأثیري اعجاز و باطني انقلاب**

قرآن کریم چې په کوم مهال او ځای کې رانازل شو، د هغه په څېر توره دوره د بشر په تاریخ کې نشته او نه به بیا راشي. د الهي حقوقو دا حال و، چې دنیا ټوله بتکده بتکده وه، د هر شي عبادت کېدو، یوازې الله تعالی و، چې عبادت یې نه و. انساني حقونه پایمالېدل، هر قوي انسان او هر قوي ټولي به کمزوري کسان له منځه وړل او بیا به یې ویاړ هم پرې کاوه. نو په دغه توره دوره کې دا کتاب را څرگند شو او بیا په داسې ځای او هېواد کې را نازل شو، چې د درېوو لویو وچو (آسیا، افریقا او اروپا) مرکزي مقام و، نه یې تر شا د کوم حکومت قوت و، نه یې د نشر او اشاعت کوم مرکز درلود، نه یې د تبلیغ لپاره کوم آزاد میدان و او نه داسې وخت پیدا شو، چې له مشکل پرته دې خپل اثر تر نورو پورې ورسوي.

د قرآن کریم او نبوي پېر زمانه ۲۳کاله وه، چې په دې کې ۱۳کاله قرآن کریم د مکې د کفارو تر ظالمانه گواښ او فشار لاندې و، له هجرت وروسته له لسو کلونو څخه؛ آته کاله د مکې تر فتحې پورې د قرآن کریم د پیروانو او دښمنانو ترمنځ د جنگونو سلسله روانه وه، چې تقریباً کم و زیات، واړه او غټ ۴۰ جنگونه وشول او دغه ټول جنگونه په حقیقت کې د قرآن کریم د تأثیري سېلاب د مخنیوي لپاره وشول. جنگ یو داسې عمل دی، چې انتقامي اثرات یې تر ډېره پورې په زړونو کې پاتې کېږي. بیا د مکې له فتحې وروسته د نبي کریم صلی الله علیه وسلم تر وفات پورې تقریباً دوه کاله داسې وو، چې قرآن کریم د خپل اغېز کولو لپاره آزاد میدان موندلی و، هغه هم په داسې قوم کې چې د زړونو هغه زخمونه یې نه و رغېدلي، کوم یې چې د قرآن کریم خلاف جنگونو کې په نصیب شوي و، خو د دې دوو کلونو په لنډه زمانه او نا مناسب ماحول کې قرآن کریم په عربو باندې دومره اثر وکړ، چې په حجة الوداع کې یې د یو لک څلورویشت زرو صحابه‌وو داسې مجمع او ټولی تیار کړ، چې په ظاهره که څه هم انسانان وو، خو د روح د پاکوالي او د عمل د تقدس له اړخه پرښتې گرځېدلې وې او په دې لږه زمانه کې د قرآن کریم له اغېزو د عربو لس لکه مربع میله ځمکه د توحید په ازانگو او د حمیده اخلاقو په نور منوره شوه. ایا په دنیا کې د کوم کتاب، کوم جماعت او حکومت په هکله ویلای شئ، چې په دومره لږه زمانه کې یې دومره عظیم اصلاحي انقلاب رامنځته کړی وي؟! دا پر دې خبرې دلیل دی، چې دا د الله تعالی کتاب دی او د الله تعالی په قدرت سره دغه عظیم انقلاب منځته راغی.

**د قرآن کریم ظاهري او سیاسي انقلاب**

له قرآن څخه مخکې او وروسته د عربو حالت موازنه کړئ! له قرآن څخه مخکې د ټولو قومونو په نسبت عرب قوم ضعیف او وروسته پاتې و او هیڅ قوم به په دوی شمار نه کاوه، مگر له قرآن کریم څخه وروسته یې د دنیا له دوو عظیمو سلطنتونو (روم او پارس) سره ډغره ووهله او داسې فتح یې ترلاسه کړه، چې نه یوازې د دې دوو امپراتوریو په ځمکه مسلط او قابض شول، بلکې د دوی په زړونو یې هم قبضه ترلاسه کړه. د دې فتحې او سیاسي برلاسۍ سبب څه و؟

د دې به یا مادي سبب وي، یا هم روحاني او غیبي سبب. د سیاسي فتحې د ترلاسه کولو لپاره د لښکرو زیاتوالی، د جنگ سامان، دولت، صنعت، خوراکي پرېماني او جسماني صحت دا ټول مادي اسباب دي، چې له پارس او روم سره وو، برعکس عرب چې شمېر یې کم وو، بې سر و سامانه هم وو او کمزوري جسمونه یې لرل، خو بیا یې هم فتح ترلاسه کړه. دا د دې دلیل دی، چې دا فتح د قرآن کریم أثر و، قرآني تعلیم د دوی په زړونو او روحونو کې داسې قوت کېښود، چې له دښمنانو سره یې نوم هم نه و او دا معلومه خبره ده، چې روحاني قوت فیصله کوونکی دی، ځکه د جنگ آلات خپله نه جنگېږي، انساني جسم یې استعمالوي، او جسم بیا د روح لخوا استعمالېږي؛ نو روح د قوت بنیادي او اساسي سرچینه ځکه ده، چې صحابه‌وو ته د روحاني او غیبي قوت په مټ غلبه او فتحه نصیب شوه.

۱. اچکن او شیرواني: د نارینه‌وو د محفل یا ودونو ځانگړې جامه ده چې د سویلي اسیا وگړي یې په ودونو کې اغوندي، تر زنگنونو پورې اوږدې وي او له غاړې څخه تر لمنې پورې تڼۍ لري.

# په کیسه‌ییز ادب کې...

وېې وېل: ستا د دغو څرگندونو لامل څه شی دی؟

ځواب مې ورکړ: هغه کوم درناوی او احترام چې هومر ته له ماشومتوبه لرم، هماغې زه اړ کړای یم چې چوپ پاتې شم..." [۳]

د پورته متن په کتلو سره دې ته اړتیا نه پاتې کېږي چې یو ځل بیا د خبرو اترو په سرلیك ټینگار وکړو او یا د سقراطي فلسفې په اړه ناسمې اخیستنې وکړو؛ ځکه له دې خبرو څخه جوتېږي چې سقراط څه ډول مکالمې کارولې او خبرې اترې په ادبي اثارو کې څه رول لري.

ځینې ادبپوهان په دې نظر دي چې ادبي یا په ټوله کې خبرې اترې د یوه ځېل یو عنصر دی او ادبي مناظرې بل توک یا عنصر چې ځینې خبرې د نغوړلو دي او په لاندې توگه به ورته ځیر شو:

ادب څېړونکي وایي مناظره هم د خبرو اترو یا پوهاوي را پوهاوي په توگه کارول کېږي؛ یعنې مناظره هم خبرې اترې دي؛ خو توپیر یې په دې کې دی چې خبرې اترې کېدلای شي صمیمي، د مینې او دوستۍ وي، یعنې هم ښې وي او هم بدې خو د ښېگړو تله به یې درنه وي او ښایي په لومړي سر کې ترخې وي، خو په پای کې خوږې شي او یا دواړه لوري یوې مثبتې پایلې ته ورسېږي او یا په ناول او نورو کیسه‌ییزو ژانرونو کې د اتل او اتلې ترمنځ د مثبتو موخو لپاره وکارول شي؛ خو مناظره بیا یو څه ستونزې او ربړې لري، په دې معنا مناظره به هرو مرو په یوې دعوې پیلېږي، دوه او یا تر دوو زیات وگړي به یې د یوې موضوع لپاره پیلوي او هر یو لوری به هڅه کوي، چې د خپلې خبرې د زبات لپاره بېلابېلو مثالونه او ثبتونه وړاندې کاندي ترڅو په وسیله یې د برې خلي ته ځان ورسولای شي. په دې برخه کې لیکوال چې په هره پوهه یا برخه کې مهارتونه لري ټول د بېلگې په توگه وړاندې کوي او هڅه کوي، چې مقابل لوری د یوې بلې پوهې په وسیله قانع کړای شي، د ساري په ډول بیا هم د افلاطون جمهوریت اثر په پام کې نیسو، چې له نن څخه کابو دوه زره او درې سوه کاله مخکې لیکل شوی؛ خو اوس هم د خلکو په منځ کې محبوبیت لري او لامل یې دا دی چې د وخت استادِ کل (سقراط) د عدالت او بې عدالتۍ د زباد لپاره آن تر ادبیاتو او هنر پورې هم بېلگې را غځولې او هڅه یې کړې، چې د وخت سوفسطیان ټول په گونډو کړي، چې له نېکه‌مرغه همداسې هم کېږي؛ خو په تاسف سره چې د وخت ناپوه حکومت د ده د پوهې درک ونه کړای شو او بالاخره دی یې د شکران زهرو په وسیله پوپنا کړ.

نو مناظره په حقیقت کې د همداسې خبرو اترو بیان دی چې دوه مخالف لوري د خپل مطلب د زباد لپاره هرې خوا ته لاسونه واچوي او بېلگې پیدا کاندي؛ خو دا په دې معنا هم نه ده چې لیکوال دې یوازې د خپل مخالف لوري د قانع کولو لپاره بېلگې راوړي او لوستونکي دې په نظر کې نه نیسي؛ بلکې لیکوال اړ دی چې داسې بېلگې او خبرې ووایي، چې لوستونکی هم پرې قانع شي او ورسره منښته وکړي؛ ځکه د لیکوالۍ یوه موخه هم همدا ده چې د ټولنې خبرې را واخیستل شي او ټولنې ته وړاندې شي، چې په دې کار کې کله ناکله لیکوال یا څېړونکی خپل احساسات هم ورسره بدرگه کړي او د یو مثبت پیغام یا پایلې په توگه یې ټولنې ته وړاندې کړي، چې د ټولنې لوری پرې بدل کاندي او خپلو تشو ته یې ځیر کړي.

ادب څېړونکي وایي په دې کې شك نه شته، چې په مناظره کې لیکوال د خبرو اترو یا ډیالوگ په پرتله ډېره خپلواکي لري؛ خو دا خپلواکي په دې معنا هم نه ده، هر څه چې لیکوال غواړي هغه لیکلای شي؛ ځکه موږ پورته هم نغوته وکړه چې لیکوال اړ دی د خپلو لوستونکو خیال هم وساتي، ځکه ډېر ځله د ده لوستونکي عادي وگړي نه دي او ښایي ډېر لوی منتقدین یې مناظره تعقیب کاندي؛ نو ځکه ویلای شو چې په مناظره کې که څومره لیکوال خپلواکي لري همدومره محدودیتونه هم لري، چې ځیرك لیکوال یې له لیکنې څخه جوتولای شي.

په مناظره کې د ډیالوگ الفاظ هم ډېر مهم دي، په دې معنا که چېرې لیکوال یا څېړونکی ځیرك وي او په دقیقه توگه هره کلمه وکاروي، له بې ځایه کلمو څخه ډډه وکړي او څو معنالرونکو کلمو ته لومړیتوب ور نه کړي؛ نو هغه کولای شي چې ډېر ژر خپل مقابل لوری قانع کړي؛ ځکه بې ځایه الفاظ نه یوازې څوك قانع کولای نه شي، بلکې د وخت د گاړ لامل هم گرځي، په نننی عصر کې چې د کمپیوټر او تخنیك عصر دی یوه شیبه هم سره زر دي، چې بې ځایه تېرول یې سور کفر برېښي.

د دې لپاره چې د مناظرې موضوع یو څه نوره هم روښانه شوې وي، بیا به هم د افلاطون د جمهوریت له اثر څخه څو خبرو یا مناظرو ته ځیرنه وکړو:

"ورته مې وویل: نو په دې صورت کې زموږ دنده دا ده چې تل خپل هغه پور، چې دښمنانو ته مو ورکړی دی، په همدې توگه ترسره کړو.

وېې وېل: البته چې باید د هغوی حق پر ځای کړو او زما پر گومان د حق پر ځای کول دا دي، چې هر څوك د خپل دښمن پر وړاندې بدي وکړي؛ ځکه د دښمن پر وړاندې بدي کول اړین او ضروري دي.

ورته مې وویل: داسې ښکاري چې سیمونیدس د شاعرانو په څېر د عدالت په پېژند کې معما کارولې ده؛ ځکه د هغه په گروهه په ظاهره عدالت هغه دی چې د انسان لپاره هر هغه شی، چې ښه او غوره وي هغه د نورو په حق یا برخه کې وکړي.

خو د دې عبارت پر ځای وایي: انسان باید د نورو حق پر ځای کړي.

وېې وېل: دغه پېژند څه عیب لري؟

ورته مې وویل: هر گوره که چېرې له سیمونیدس څخه وپوښتو هغه دنده، چې د طبابت په نامه یادېږي او د هغه مسلك هم دی، هغه په دې برخه کې تر اوسه پورې څه کړي او یا یې څومره حق او یا دنده ترسره کړې ده او د څومره کسانو درملنه یې کړې ده او څوك یې د دې ویاړ وړ بللي دي؛ نو ستا په اند څه ځواب به یې دې پوښتنې ته ورکړی وای؟". [۴]

**مأخذونه:**

۱. گیوي، ډاکټر حسن احمدي. از فن نگارش تا هنر نویسنده گی، دویم چاپ: تهران، ایران، ۱۳۸٦ لمریز کال، ۱۹۵ مخ.

۲. سیدي، سیدنظیم. ((ناول او په پښتو ادب کې د هغه پرمختایي بهیر))، د علومو اکاډمۍ د خپرونو ریاست، عدالت مطبعه: کابل، ۱۳۸۹ لمریز کال، ۸۸ مخ.

۳. سیدي، سیدنظیم. جمهوریت، صمیم ادبي ټولنه: کابل، ۱۳۸۹لمریز کال، ۵۹۱ مخ.

۴. پورته اثر، ۳۲- ۳۳ مخونه.

# کره‌کتنیزه...

وړاوړي، چې تاسې ورڅخه د متن په سموالي او کره والي کې گټه اخیستې ده.

**د ټولیزې طرحې برابرول**

په خپله سریزه کې یوه ټولیزه طرحه برابره کړئ. ټولیزه طرحه د متن په اړه لوستونکي ته په متن کې نغښتل شوي معلومات په واک کې ورکوي، تر څو لوستونکی له راتلونکي موضوع او ستاسو د ارزونې له معیارونو څخه خبر شي. سریزه او ټولیزه طرحه دواړه ستاسې د کره‌کتنې لپاره یو پیل دی او دا خورا مهمه او گټوره برخه هم ده، چې باید د لیکلو پر وخت کره‌کتونکي پاملرنه ورته وکړي.

**د اصلي متن لیکل**

اصلي متن د مقالې اصلي او مرکزي ټکی دی. په لومړي سر کې د کتاب اصلي متن چې غواړئ د هغه په اړه خبرې وکړئ را لنډ کړئ. هر اصلي ټکی باید په یوه سرلیک باندې واړوئ، وروسته دغه ټکي یا سرلیکونه تر بحث لاندې ونیسئ یا د په نښه شوو ټکو په اړه د یوه یوه پاراگراف په اندازه خپله ارزونه وړاندې کړئ، د موضوع په اړه خپل اندونه څرگند کړئ او سرچینې هم یادې کړئ.

په یاد ولرئ، کله چې د اصلي ټکو په اړه بحث کوئ، نو د خپلو او د لیکوال د نظریو توپیرونه باید را وړل او څرگند شي، ځکه چې تاسو د یوه کره کتونکي دنده تر سره کوئ، نه داچې تاسې د لیکوال نظرونه بېرته په متن کې بیاځلې تکرار او راوړئ، که هدف د بېرته څرگندولو او بیان وي، نو بیا څه ویلو ته اړتیا نشته، ځکه دویم ځل د لیکوال خبرې تکرارول، بې گټې دي. یو ځل لیکوال ویلي،که دویم ځل یې ته ووایې او کوم توپیر ونه لري، موضوع بېخونده کېږي او لوستل یې د لوستونکي د وخت ضایع کول دي.

تر دې مهمه لا دا؛ که چېرته تاسې په خپله مقاله کې له نورو کتابونو یا مقالو څخه گټه اخیستې وي، نو خامخا باید د هغه د لیکوال نوم واخیستل شي، ځکه که چېرته له کتاب او مقالې څخه گټه اخیستل شوې وي او د لیکوال نوم یې یاد نه شي، نو کېدای شي چې تاسې په ادبي غلا (سرقت) تورن شئ. له بده‌مرغه موږ ډېرې دغسې مقالې او لیکنې لرو، چې له یوې خوا موضوع تکراري وي او له بلې خوا د مقالو عنوانونه هم کټ مټ تکراري را اخیستل شوي وي او په معتبرو مجلو کې خپرېږي، چې دا کار نه یوازې د لیکوال حیثیت تر پوښتنې لاندې را ولي، بلکې د مجلې علمي حیثیت هم ورسره ټیټېږي.

که چېرته تاسې غواړئ چې کره کتنه وکړئ، نو لازمه ده چې لومړی خو د هغې موضوع په اړه خپل نوي معلومات وړاندې کړئ. که چېرته مو بیا غوښتل چې د موضوع په اړه له بل کتاب او یا مقالو څخه نوي معلومات وړاندې کړئ، بیا اړینه ده چې هغه سرچینې او د کتاب یا مقالې د لیکوالو نومونه هم یاد کړئ، ترڅو له یوې خوا تاسې خپل مسئولیت رفع کړی وي او له بلې خوا د هغوی حق

۲مخ

# زېری

د تأسیس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

علمي، څېړنيزه او ادبي پښتانه ورځنۍ جريده

د ۱۴۰۰ ل.کال، مرغومي- کب مياشتې | ۱۹- ۲۴مه گڼه | پرله پسې ۳۸۷- ۳۹۲مه گڼه

د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبياتو مرکز څېړنيز ارگان

**مسئول مدير:** څېړندوی احسان الحق کبير

**مهتممه:** څېړنياره شفيقه نوري

**کتنپلاوی:** څېړنپوه دوکتور سيد محي الدين هاشمي، څېړندوی احسان الحق کبير، څېړندوی مطيع الله ساحل، څېړندوی لطف الله صابر، څېړنياره شفيقه نوري.

**د اړيکي شمېره:** (+۹۳)۷۴۴۴۸۷۳۳۵

**برېښناليک:** zerai1316@gmail.com

● په زېري جريده کې له سرليکنې پرته، د نورو ليکنو سپيناوی په خپله د ليکوالو پرغاړه دی.

www.asa.gov.af

د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، زنبق څلورلارې، نوی ښار کابل- افغانستان

**د يوې گڼې بيه:** پنځه افغانۍ



څېړنوال محمد آصف احمدزی


# د فرهنگي او ادبي خبرونو پېښليک

## د سيد جمال الدين افغان او ملک کالو خان يوسفزي په اړه سيمينار جوړ شو

د خيبر پښتونخوا په پېښور ښار کې د علامه سيد جمال الدين افغان او ملک کالو خان يوسفزي په اړه سيمينار د مرغومي پر ۲مه (د ۲۰۲۱م کال د ډسمبر ۲۳مه) جوړ شو.

دا سيمينار د "صابر رڼا ملگري تحريک" له خوا او د دغه تحريک د مشر سيد صابر شاه صابر په هلو ځلو ترسره شو چې مشري يې مشهور شاعر اباسين يوسفزي کوله.

دا سيمينار چې د ورځې په دوه نيمو بجو پيل شو او د ماخوستن په نهه نيمو بجو پای ته ورسېد، افتتاحيه خبرې يې صابرشاه صابر وکړې او تر هغه وروسته څېړونکو او پوهانو د يادو دواړو شخصيتونو په باب مقالې واورولې.

د يادو دواړو شخصيتونو په باره کې له ډنمارک څخه عمر زماني او استراليا څخه ډاکټر لطيف ياد خپل غږيز پيغامونه رالېږلي وو چې گډونوالو ته واورول شول.

د سيمينار دويمه برخه د ماښام له لمانځه او مېلمستيا وروسته مشاعرې ته ځانگړې شوې وه چې د استاد لايق زاده لايق په مشرۍ د شپې تر نهه نيمو بجو پورې يې دوام درلود.

## "عبدالغني خان ژوند او زمانه" اثر مخکتنه وشوه

د «عبدالغني خان ژوند او زمانه» کتاب مخکتنه د پښتو ادبي سوسايټي اسلام آباد له خوا د مرغومي پر ۷مه وشوه.

د پښتو ژبې د نوميالي شاعر غني خان د ژوند په اړه دغه کتاب ډاکټر سيد وقار علي شاه کاکاخېل ليکلی چې په ٦٥٠ پاڼو کې چاپ شوی دی.

د همدې کتاب د مخکتنې په غونډه کې افراسياب خټک، صاحبزاده امتياز، ډاکټر حنيف خليل او ځينو نورو ليکوالو او څېړونکو ويناوې وکړې.

د کتاب ليکوال وقاد علي شاه کاکاخېل دې غونډې ته وويل چې د غني د ژوند ډېر اړخونه يې سپړلي او په دې برخه کې يې له کتابونو او مجلو راخوا، له ډېرو هغو کسانو سره هم خبرې کړې دي چې له غني خان سره نږدې پاتې شوي وو.

## شاعر او طناز نعمت الله غمزوری وفات شو

دی د کندهار ولايت د ارغنداب ولسوالۍ د سرخ چالا کلي اوسېدونکی و چې د ۱۴۰۰هـ. ش کال د مرغومي په ۱۴مه يې له دې نړۍ سره مخه ښه وکړه.

ده د ژوند ډېره برخه د خلکو په خوشحاله ساتلو کې تېره کړې وه، خپله يې طنزي شعرونه ليکل او بيا يې د موسيقۍ له ځينو سيمه‌ييزو الو سره په مجلسونو کې ترنم کول. هغه له تېرو لسو کلونو راپدېخوا د خپلو طنزيه شعرونو په ويلو سره پر ټولنيزو رسنيو مشهور شوی و. ده د ټولنې فساد، بې عدالتي او واقعيتونه په طنزيه او کومېډي ډول بيانول.

غمزوري د پښتورگي ناروغي درلوده چې له همدې امله د پاکستان په يوه روغتون کې وفات شو.

## خوست کې مشاعره وشوه

په خوست کې د دې ولايت د اطلاعاتو او کلتور رياست کې د مرغومي پر ۱۷مه مشاعره وشوه.

په دې مشاعره کې چې پر شاعرانو او فرهنگيانو سربېره د اسلامي امارت لوړپوړو کسانو هم برخه درلوده، له شاعرانو يې وغوښتل چې ولسونو ته د يووالي او ورورگلوۍ پيغامونه ورکړي.

له ويناوو وروسته گڼو شاعرانو خپل شعرونه واورول.

مشهور شاعر پيرمحمد کاروان چې په دې مشاعرې کې يې برخه اخيستې وه، د مشاعرې ستاينه وکړه.

## شاعر او ليکوال تسکين مانيروال وفات شو

د پښتو ژبې نوميالی شاعر او ليکوال تسکين مانيروال د ۱۴۰۰هـ. ش کال د مرغومي پر ۲۰مه (د ۲۰۲۲م کال د جنورۍ ۱۰مه) د ورپېښې ناروغۍ له امله ومړ او د صوابۍ په کوزه مانيرۍ کې په خپله پلرنۍ هديره کې خاورو ته وسپارل شو.

دی په ۱۹۴۹م کال کې د خيبر پښتونخوا په کوزه مانيرۍ کې زېږېدلی و او په يوه دولتي ښوونځي کې استاد و.

اروانښاد مانيروال په خپل ژوند کې د شعرونو يوه ټولگه خپره کړې، خو ډېر شعرونه يې ناچاپه پاتې شول.

## مشهور سندرغاړی سلام لوگری مړ شو

د هېواد مشهور سندرغاړي استاد سلام لوگری د ۸٦ کلونو په عمر له نړۍ سترگې پټې کړې او د لوگر د محمداغې ولسوالۍ په ده نو کلي کې خاورو ته وسپارل شو.

د سلام لوگري زوم زلمی وايي، هغه له تېرو ۸ کلونو راهيسې ناروغ و چې په دې وروستيو کې يې نه يواځې د سترگو ليد له لاسه ورکړی و، بلکې له پښو هم لوېدلی و.

هغه زياته کړه، استاد د محمد آغې ولسوالۍ په ده نو کلي کې د خپلو خلورو زامنو څخه له يوه سره ژوند کاوه چې د ۱۴۰۰هـ. ش کال د سلواغې پر ۲مه د شنبې پر ورځ ماښام وفات شو.

سلام لوگری ۱۸ کلن و چې د موسيقي په برخه کې يې له کابل راډيو سره کار پيل کړ او کرار کرار يې شهرت تر لاسه کړ، لسگونه سندرې يې وويلې او په کور دننه او بهر يې کنسرټونه وړاندې کړل.

د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت په ۱۳۸۲ لمريز کال کې هغه ته د استاد لقب ورکړ.

سلام لوگری د لوگرۍ موسيقۍ د ځانگړې هنري سبک له گوتې په شمېرو ځلېدلو څېرو څخه و او د موسيقي په برخه کې يې ډېر شاگردان هم روزلي دي.

## د پښتو انلاين ادبياتو تحقيقي او تنقيدي جاج

د ننگرهار پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي استاد محمد داود وفا د پېښور پوهنتون په پښتو اکاډمۍ کې د خپل پي ايچ ډي له ډيزرټېشن «د پښتو انلاين ادبياتو تحقيقي او تنقيدي جاج» څخه دفاع وکړه.

دغه دفاع د سلواغې پر ۵مه وشوه چې ارزوونکي هيأت بريالی وگڼله.

د نومووړي لارښود استاد، پروفيسور ډاکټر نصرالله جان وزير و.

## د «چينه» ادبي او هنري خپرونې له خوا مشاعره وشوه

د افغانستان د ملي راډيو تلويزيون د «چينه» ادبي او هنري خپرونې له خوا د سلواغې پر ٦مه تر ماسپښين وروسته مشاعره جوړه شوه چې د اسلامي امارت لوړپوړو چارواکو هم په کې برخه اخيستې وه.

د بهرنيو چارو سرپرست وزير مولوي امير خان متقي، د اسلامي امارت وياند ذبيح الله مجاهد، د کورنيو چارو وزارت سلاکار انس حقاني، د چارو اداري رئيس مولوي احمد جان احمدي، د اسلامي امارت د بهرنيو چارو پخواني وزير مولوي عبدالوکيل متوکل او دغه راز استاد محمد اسماعيل يون، پيرمحمد کاروان او عبدالستار سعادت هم د نورو لسگونو کسانو ترڅنگ د دې مشاعرې گډونوال وو.

د ملي راډيو تلويزون رئيس احمدالله وثيق د پرانيستې او ښه راغلاست وينا وکړه او هم يې د دې محفل د جوړېدو په موخه خبرې وکړې.

ده دغه راز وويل: "زېرى درکوو چې په نږدې راتلونکي کې به د يوه نوي فرهنگي پروگرام په پيل کلي او ښارونه سره ونښلوو. د ولايتونو دودونه، کلتور او رواجونه به د تلويزيون په مرسته هېوادوالو ته وښيو او په دې توگه به د غرونو او ښارونو فاصلې سره را لنډې کړو."

په دې ادبي محفل کې اکرام الدين مفتون، قاري عبدالستار سعيد، عبدالستار سعادت، دادمحمد ناوک، ادريس څواک، عبدالله حامد تاتار، سميع الله تړون، ضياءالدين همت مل، ملا بسمل، جاوېد دلدار، انس حقاني، فقير محمد دروېش، محمد رفيق قادري، پيرمحمد کاروان، قاري عتيق الله اسير او مطيع الله تراب شعرونه وويل.

د پښتو ترڅنگ په دري او اوزبېکي ژبو هم شعرونه ولوستل شول او په منځ منځ کې يو يو ترنم هم کېده.

په مشاعره کې هر شاعر له خپل ذوق سره سم شعر وايه او کوم داسې ځانگړی محدوديت نه و چې هرومرو دې د اسلامي امارت اړوند حماسي شعر يا ترنمونه وشي.

انس حقاني له خپل شعر ويلو وړاندې وويل چې په تېره شل کلنه مبارزه کې ۷۰ سلنه ونډه د شعر و شاعرۍ وه.

د ماښام لمانځه د قضا کېدو له وېرې پروگرام ته د لا اوږدېدو چانس نه و، نو د غونډې ارزونه مولوي اميرخان متقي وکړه او په پای کې ذبيح الله مجاهد د غونډې دعايه وويله.

## ليکوال او ژورناليست شاه ولي قرار وفات شو

ليکوال، شاعر او ژورنالست شاه ولي قرار د ۱۴۰۰هـ.ش کال د سلواغې پر ۸مه نېټه په حق ورسېد.

ده يو عمر د افغانستان په چاپي رسنيو کې هېوادوالو ته خدمت کړی و، ډېره موده يې د هېواد په دولتي ورځپاڼه کې د مسئول مدير، مسئول سکرتر او همدارنگه د ليکوال پلاوي د غړي په توگه دنده ترسره کړې وه.

## د عبدالحي مطمئين لومړۍ تلين ونمانځل شو

د کندهار په اطلاعاتو او فرهنگ رياست کې د اروانښاد عبدالحي مطمئين د لومړي تلين نمانځلو لپاره مراسم د سلواغې پر ۱۳مه جوړ شوي و چې د کندهار د اطلاعاتو او فرهنگ رئيس مولوي نور احمد سعيد، ليکوال او شاعر حيات الله رفيقي، استاد نور احمد قرآنمل، ليکوال او شاعر عبدالقيوم مينه وال، ليکوال او شاعر احمد فاني او لسگونو نورو ليکوالانو او د ادب مينه والو په کې گډون کړی وو.

په ياده غونډه کې ليکوالانو مقالې ولوستلې، د مطمئين پر علمي او ټولنيز ژوند وغږېدل او هم يې د اروانښاد کړي خدمتونه ياد کړل.

مرحوم عبدالحي مطمئن په ۱۳۹۹ کال د سلواغې پر څلورمه له دې فاني نړۍ څخه سترگې پټې کړې. هغه د تېر اسلامي امارت پر مهال د کندهار د اطلاعاتو او فرهنگ رئيس او د اسلامي امارت وياند وو، د دې تر څنگ يې ليکوالي او شاعري هم کوله او زياتره به يې علمي او ادبي بانډارونه جوړول.

## پوهاند محمد حسين يمين وفات شو

د کابل پوهنتون د دري ژبې پخوانی استاد او ليکوال پوهاند محمد حسين يمين د ۸۵ کلونو په عمر د ۱۴۰۰هـ. ش کال د سلواغې پر ۱۲مه (د شپې مهال، سه شنبه) وفات شو.

دی چې د کابل ښار په خيرخانه کې په حق ورسېد، په سبا (چهارشنبه، د سلواغې ۱۳مه) په خپله پلرنۍ سيمه د پروان په چاريکارو کې خاورو ته وسپارل شو.

ده د لهجه پېژندنې، د ليکلو اصول، د څېړنې لار او څو نور آثار کښلي دي.

د پوهاند يمين ۱۲ اثره په کتابي بڼه او تر ۸۰ ډېرې مقالې خپرې شوې دي.

محمد حسن يمين په ۱۳۱۵هـ. ش کال د پروان ولايت په مرکز چاريکار کې زېږېدلی و، ليسانس يې له کابل پوهنتون څخه او ماستري او دکتورا يې د تاجکستان په دولتي پوهنتون کې د فيلالوژۍ په برخه کې ترلاسه کړې وه.

## "د پښتو ژبې بډاينې لپاره دې کار وشي"

د هلمند د اطلاعاتو او کلتور رياست مرستيال وايي چې نورو ژبو ته په پوره درناوي پښتانه په ځانگړې توگه ځوانان بايد د پښتو ژبې د بډاينې لپاره کار وکړي.

د فبرورۍ ۲۱مه نېټه د مورنۍ ژبې له نړيوالې ورځې سره سمون لري.

د هلمند د اطلاعاتو او کلتور رياست مرستيال مولوي محمد قاسم رياض وايي، پښتو زموږ مورنۍ او رسمي ژبه ده او د بډاينې لپاره يې بايد ټول کار وکړي.

ده زياته کړې، د دغه ولايت د اطلاعاتو او کلتور رياست په پلان کې لري چې د پښتو ژبې د بډاينې لپاره د امکان تر بريده هڅه وکړي. دوی په لښکرگاه کې يو مجهز کتابتون لري او ځوانان کولای شي چې هلته د مطالعې لپاره ورشي.

## سندرغاړی استاد گل زمان مړ شو

د افغانستان مشهور سندرغاړی او د سندرو جوړوونکی استاد گل زمان د ۸۴ کلونو په عمر د ۱۴۰۰هـ. ش کال د کب پر ٦مه د جمعې په ورځ د ژوند له کاروانه جلا شو.

د هغه جنازه د کب پر ۷مه د کابل په دارالامان کې خاورو ته وسپارل شوه.

دی په ۱۳۱٦هـ. ش/ ۱۹۳۷م کال کې د خوست د اوسني ولايت د علي خېلو د ولسوالۍ د «چينه» کلي سيمه کې نړۍ ته سترگې پرانيستې او وروسته بيا په ۱۳۴۳ کال کابل ته راغی.

ده لومړی ځل په ۱۳۴۳ کال د افغانستان په راډيو کې سندرې پيل کړې. لومړنۍ سندره يې (آی! غونډې منډې- دا توري زلفې جوړې که په ټنډې - له باغه گلان راوړه) وه.

ويل کېږي چې د افغانستان په ملي راډيو- تلويزيون کې د استاد گلزمان شاوخوا ۸۵۰ سندرې ثبت شته.

## "استاد محب د کار او دستار سړی"

د افغانستان ملي تحريک له خوا د هېواد د فرهنگي او ټولنيز ډگر د خدمتگار (استاد پروفيسور عبدالکريم محب) د فرهنگي او ټولنيزو خدمتونو د يادونې او قدروني په باب د ژوندون ټلويزيون د غونډو په تالار کې د کب پر ۱۲مه علمي غونډه جوړه شوې وه.

پوهاند دکتور محمد اسمعيل يون، فيصل مير، څېړنپوه سيد محی الدين هاشمي، پوهنمل يحيى همای، سردار محمد همدرد او مولوي نصير احمد فرقاني د استاد عبدالکريم محب د ژوند، آثارو، افکارو، فرهنگي او ټولنيزو خدمتونو په باب هر اړخيزې خبرې وکړې او د هغه کړي خدمتونه يې وستايل.

استاد عبدالکريم محب پر ۱۳۱۸هـ. ش کال په ننگرهار کې زېږېدلی، په هېواد کې يې د ليسانس تر کچې لوړې زده کړې کړي او په هندوستان او امريکا کې يې د ماسترۍ او دکتورا تر کچې پورې خپلې لوړې زده کړې تر سره کړې دي.

استاد محب په پښتو، دري، اردو، عربي او انگليسي ژبو پوهېږي او تر دې دمه يې په پښتو، دري او انگليسي ژبو تر شلو عنوانو زيات آثار ليکلي چې اکثره يې چاپ شوي دي.

استاد محب اوس په امريکا کې د پردېسۍ ژوند شپې او ورځې تېروي.

## د نرگس گل مشاعره وشوه

په ننگرهار ولايت کې د نرگس گل مشاعره د کب پر ۱۲مه د دې ولايت د اطلاعاتو او کلتور رياست له لوري وشوه.

د اطلاعاتو او کلتور رياست ويلي چې په دې مشاعره کې ځايي مسئولانو، فرهنگيانو، شاعرانو، ليکوالانو، د ادبي بهيرونو غړو او عامو خلکو گډون کړی و.

د نرگس گل کلنۍ مشاعره د ننگرهار د نوموتي شاعر داوود شهيد له لوري د هغه په نوښت پيل شوه چې اوس يې د ننگرهار په کچه شهرت پيدا کړی او له څو کلونو راهيسې په دولتي کچه نمانځل کېږي.

## د خپلواکۍ د اتل غازي مير زمان‌خان علمي سيمينار جوړ شو

د افغانستان ملي تحريک له لوري د ژوندون راډيو ټلوېزيون د غونډو په تالار کې د هېواد د خپلواکۍ د يوه ملي اتل او د افغان- انگليس د دربيم جنگ د ختيځې جبهې د لوی بولندوی غازي مير زمانخان د ژوند، مبارزو او اتلوليو په باب علمي سيمينار د کب پر ۲۲مه جوړ شوی و.

## د غني خان او نورو اديبانو په اړه د څېړنو لپاره د "غنيات" په نوم اداره جوړېږي

په کوزه پښتونخوا کې د عوامي نيشنل گوند وايي چې د پښتو د وتلي شاعر خان عبدالغني خان او نورو پښتنو ليکوالو د فعاليتونو په اړه د څېړنو لپاره د "غنيات" په نوم اداره جوړوي.

دغه خرگندونې د عوامي نيشنل گوند د خيبر پښتونخوا ايالتي مشر ايمل ولي خان د کب پر ۲۴مه د پېښور باچا خان مرکز کې د غني خان د مړينې د ۲٦م تلين په مراسمو کې وکړې.

هغه وويل، غنيات اداره به د غني خان او نورو شاعرانو د کار په اړه څېړنې کوي او په دې توگه به د هغوی افکار په ټولنه کې عاموي.

## په خوست کې د شملې کلنۍ مشاعره وشوه

دا مشاعره د صبريو او يعقوبيو ولسوالۍ کې د ځوان ادبي بهير، کليوال ادبي يون او اباسين ادبي ټولنې له خوا د کب پر ۲۴مه جوړه شوې وه.

په دې مشاعره کې د خوست په شمول د نورو ولايتونو شاعرانو او د ادب مينه والو هم برخه اخيستې وه.

د مشاعرې په پای کې مشهور شاعر پيرمحمد کاروان ته د خوست ادب شمله د گډونوالو په لاس ور په سر کړای شوه.

## استاد رفيع د پښتو ادب سالار

د افغانستان ملي تحريک په بلنه او نوښت د ژوندون ټلوېزيون د غونډو په تالار کې د استاد حبيب الله رفيع د فرهنگي خدمتونو او کارونو په باب علمي سيمينار د کب پر ۲٦مه د پنجشنبې په ورځ جوړ شو.

سيمينار کې پوهاند دکتور محمد اسمعيل يون، سباوون، ارزو، محبوب الله خان محبوب، پوهنمل يحيى همای، محمد نبي تدبير، قاري معرفت او صديق پتمن د استاد رفيع د ژوند، آثارو او افکارو په باب خپلې علمي او څېړنيزې ليکنې او ويناوې واورولې او استاد رفيع يې د هېواد د فرهنگي ډگر او ملي فکر يو ستر خدمتگار وباله.

د سيمينار تر څېړنيزې برخې وروسته د افغانستان د ملي تحريک له خوا د استاد حبيب الله رفيع د غوره خدمتونو له امله هغه ته د (افغانيت او اسلاميت) په نامه د سرو زرو مډال ورکړ شو، محمد نبي تدبير ته ستاينليک ډالۍ شو او صديق پتمن او د غونډې د نورو برخه والو مشرانو له خوا د استاد حبيب الله رفيع او محمد نبي تدبير پر سرونو د عزت پگړۍ وتړل شوې.

د غونډې په پای کې استاد رفيع خبرې وکړې، د ملي فکر او مبارزې په باب يې رڼا واچوله او د دې علمي سيمينار له جوړوونکو يې مننه وکړه.

د يادونې وړ ده چې استاد رفيع په ۱۳۲۴هـ.ش کال په ميدان وردگو ولايت کې زېږېدلی دی، په شپاړس کلنۍ کې يې ليکوالي پيل کړې، سږکال (۱۴۰۰) يې د عمر ۷٦يمه او د ليکوالۍ ٦۰مه کاليزه وه چې د ملي تحريک له خوا د شاندارې غونډې او علمي سيمينار په ترڅ کې ونمانځل شوه.

## بلخ کې د چينې هنري او ادبي خپرونې له خوا مشاعره وشوه

د بلخ ولايت د مرکز مزارشريف په کامگار بڼ کې د ملي راډيو تلويزيون د چينې هنري او ادبي خپرونې له خوا رنگينه مشاعره ترسره شوه.

دغه مشاعره چې د ۱۴۰۰هـ. ش کال د کب پر ۱۹مه په مزارشريف کې ترسره او ثبت شوې وه، د همدې مياشتې پر ۲۹مه (د کال وروستي ماخوستن) د ملي راډيو تلويزيون له پردې څخه خپره شوه.

## د کومېډي خپرونو چلوونکی مصطفي خيبر وفات شو

تکړه طنز ليکونکی او د تلويزونونو د تفريحي خپرونو چلوونکی مصطفی خيبر د ۴۸ کلونو په عمر وفات شو.

مصطفی خيبر د افغانستان په څو تلوېزيونونو او راډيوگانو کې د کار کولو کاري تجربه لرله.

نوموړي د لمر تلوېزيون د «ډنډورې» او «ډېډاندس» په نوم د خپرونو لپاره ليکنې کولې.

مصطفی خيبر د ۱۴۰۰هـ. ش کال کب پر ۲۹مه (يکشنبه) ناوخته د کابل په يوه روغتون کې د زړه د حملې له امله ساه ورکړه.

## تازه چاپ شوي آثار

۱. د قلم تر وړانگو لاندې (خاطرې) محمد زبير شفيقي
۲. د سياست، معيشت، ادب تړاو او د پښتنو شتمني (څېړنه) ډاکټر لياقت تابان
۳. د افغان امپراتورۍ د ويش تاريخ، ژباړن: عبدالهادي مجروح
۴. له شکه تر ايمانه، ژباړن: څېړنوال محمد اصف احمدزی
۵. زۀ لۀ رنگونو نه دنيا جوړوم، شاعر: مصطفی پسرلی
٦. مرثې د څنارونو، شاعر: صديق کاوون توفاني
۷. اطرافي (ناول) اصف مشال
۸. د افغانستان پانې، ژباړن: عبدالکبير احساس
۹. د جگړې ناښځينه څېره (ناول) ژباړن: جبار فراز
۱۰. په پښتو ژبه او ادب د افغانستان د ثور انقلاب اثرات (څېړنه) ډاکټر نصرالله جان وزير
۱۱. که څهره مو نه وه، شاعر: خليل باور
۱۲. د نجونو خاطرې- ژباړن: وصي ابهام
۱۳. زري کړکې (د ترانو ټولگه) محمد غوث نوري.
۱۴. د غم ناوې، يتيمه: د ليکوالې روقيې سلطاني دوه تازه ناولونه دي.